مؤسسة عبدالعزيز الراجحي الوقفية
ABDUL AZIZ ALRAJHI FOUNDATION

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

# د خوږ نبي صلى الله عليه وسلم سره ستا ورځ



بشتو

ليکنه: أبوخالد أيمن بن عبدالعزيز أبانمي

مراجعه
د. عبدالكريم بن عبدالله الخضير

# يوم مع حبيبك صلى الله عليه وسلم

تاليف
**أبو خالد أيمن بن عبدالعزيز أبانمي**

راجعه فضيلة الشيخ
**د. عبدالكريم بن عبدالله الخضير**

ترجمة
**عبد الرحيم سلطان**

مراجعة
**محمد نعمت الله**

بشتو

بسم الله الرحمن الرحيم



17 د نبي کريم  صلى الله عليه وسلم
ځيني پيدايشي صفات:

19 د خوب نه بيداريدل،  او دس کول، او د شپې قيام
کولو کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم طريقه:

27 په لمانځه کې د نبي کريم
صلى الله عليه وسلم طريقه:

47 د سهار او ماښام اذکارو کې د نبي کريم
صلى الله عليه وسلم طريقه:

55 په خوراک، څښاک کې د نبي کريم
صلى الله عليه وسلم طريقه:

59 په لباس، مزل او سورلۍ کې د نبي کريم
صلى الله عليه وسلم طريقه:

65 د عامو خلکو سره په تعامل کې د نبي کريم
صلى الله عليه وسلم طريقه:

73 په کورکې اودخوب په وخت د نبي کريم
صلى الله عليه وسلم طريقه:

# ورځ د خوږ پیغمبر ﷺ په خواکې

**تړول** د کمال صفتونه هغه ذات لره دي کوم ذات چې د خپل محبت لاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تابعدارۍ سره تړلي ده د الله پاک وېناده:

﴿ قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ [آل عمران : ٣١]

(ای نبي!) ته ووایه: که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسوگناهونه وبخښي اوالله ډېربخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی.

او د هغه چانه یې د ایمان نفي کړیده څوک چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په محبت باندي د بل چا مینه او محبت غوره کوي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(لا يؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من والده وولده والناس أجمعين)**[1].

(1) بخاري

په تاسئ کې يو څوک تر هغه وخت پورې کامل مؤمن کيدی نشي ترڅو چې زه ورته د خپل پلار، اولاد، او ټولو خلکو نه ډير محبوب نشم.

پوره، کامل درود او سلام دې وي په غوره پيغمبر چې د رڼا چراغ او د حق د لارې داعي او زيری ورکونکی دی، د الله پاک لخوانه په مونږ رحمت او نعمت دی، د الله پاک رحمتونه او سلامونه دې ويورباندي ترڅو چې شپې او ورځې رواني وي، د الله پاک رحمتونه او سلامونه دې وي ورباندي ترڅو چې يادوي ده لره نيکان ذکر کونکي، د الله پاک رحمتونه او سلامونه دې وي ورباندي د باران د څاڅکو او د ونو د پاڼو او د شګو او ګاڼو د شمير په اندازه، د الله پاک رحمتونه او سلامونه دې وي د هغه په پاکه کورنۍ او د هغه په مهاجر او انصارو صحابه و باندي، د الله پاک رحمتونه او سلامونه دې وي د دوې په تابعدارانو باندي، ددي نه بعد:

رشتنی مسلمان ډير شوق لري ترڅو خپل خوږ نبي محمد صلی الله عليه وسلم ووينې، او دا وايي ارمان چې زه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په صحابه و کې شامل وی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په مجلس کې کيناستلی خپلې سترګې به مي د نبي کريم صلی الله عليه د نوراني مخ په ليدلو رڼا کولی، او د هغه خوږې خبري به مي اوريدلی، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم زړه راښکونکي اخلاق به مي ليدلی، د هغه عبادت او بندګي به مي هم ليدلی وی هر مسلمان د دي ارمان کوي او په دې لاره کي د هر هغه څه ورکولو ته تيار وي کوم څه چې دده په توان او طاقت کي وي، لکه څنګه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(من أشد أمتي لي حباً ناسٌ يكونون بعدي يود أحدهم لو رآني بأهله وماله)**[1].

زما په امت کې زما سره زیاته مینه کولو واله هغه خلک دي چې زما نه روستو به راځي، هغوي به دا خوښه وي چې د مال هال په بدله ما ووینې.

د تابعینو همدا حال وو: ابن سیرین رحمه الله عبیده بن عمرو رحمه الله ته وویل: مونږ ته انس بن مالک رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو څه اندازه ویښتان راکړي دي، عبیده بن عمرو رحمه الله ورته وویل: ماته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ویښته د دنیا او ما فیها نه ډېر غوره دی.[2] امام ذهبی رحمه الله په دې هکله وایي: دا امام د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پنځوس کاله بعد د مینې او محبت داسې اظهار کوي، زمونږ به څنګه احساس وي که مونګ په دې زمانه کې په صحیح سند سره د نبي کریم صلی الله علیه و یښته پیدا کړو؟ خو په دې زمانه کې په صحیح سند سره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویښته پیدا کول ډېر ګران کار دی.

امام ذهبی رحمه الله دا هم ویلي دي: دا خبره هم په ثبوت رسیدلې ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپل سر مبارک وخر وو او ویښتان مبارک یې د صحابه کرامو د عزت په خاطر په هغوي تقسیم کړل. آه زما شوقه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک ویښتانو ښکلولو ته.

(1) مسلم
(2) بخاري

جبير ين نفيل رحمه الله وايي: يوه ورځ مونږ د مقداد بن اسود رضي الله عنه سره ناست وو، يو سړی ورباندې ورتير شو، او داسي يې وويل خوشحاله دي وي دې دواړه سترګو لره دا هغه سترګي دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم يې ليدلی دی، مونږ ډير ارمان کوو چې هغه څه مو ليدلی وي کوم چې دې سترګو ليدلي دي او هغه څه ته حاضر شوی وی کوم څه ته چې دا سترګي حاضرې شوې دي (مقصد يې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ليدل وو. ثابت بناني رحمه الله چې به کله انس بن مالک د نبي کريم صلی الله عليه وسلم خادم وليد، ورته به مخامخ شو او لاسونه به يې ورله ښکل کړل، او ويل به يې چې دا هغه لاسونه دي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم لاسونو مبارکو سره لګيدلي دي.

همدغه شان يحيی بن حارث رحمه الله به د واثله بن اسقع رضي الله عنه لاسونه ښکلول او ځينې تابعينو به د سلمه بن اکوع رضي الله عنه لاسونه ښکلول او ويل به يې چې د ا هغه لاسونه دي کومو چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره بيعت کړی دی. حسن بصري رحمه الله به چې کله د هغه کجورې د تنې قصه کوله په کومه چې به نبي کريم صلی الله عليه خطبه ويله او چې کله يې هغه پريښوده او په ممبر يې خطبه ورکول شروع کړل هغه تنه د کجورې په ژړا شوه او داسي يې اوازونه يې وکړل لکه د وښې نه چې بچی لري کړی شي، او دا ژړا په مسجد کې ټولو کسانو واوريده بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم په هغه تنه د کجورې باندې خپل لاس کيښود او په ارام شوه حسن بصري رحمه الله به ويل: ای مسلمانانو د لرګي يوه تنه د نبي

کریم صلی الله علیه سره ډیره مینه کوي او د هغه د لیدلو شوق کوي نو تاسو خو ډیر حقدار یاست چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه وکړي.

د تابعینو کار یوائې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د محبت او شوق اظهار نه وو بلکه د محبت سره هغوې د نبي کریم صلی الله علیه تابعداري هم کوله.

ابو مسلم خولاني رحمه الله به ویل: ایا صحابه کرام به دا گمان کوې چې یوائې مونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت کوو او د هغه تابعداران یو، نا داسي نه ده په الله قسم چې مونږ ورسره په دې هکله داسي سیالي وکړو ترڅو صحابه کرام پوهه شي چې دوې د ځان نه روستو هم سړي پرینبي دي.

ابو مسلم خولاني رحمه الله نه مني چې یوائې صحابه کرام دې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه، محبت او د هغه تابعداري وکړي بلکه غواړي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په محبت او تابعدارۍ کې د صحابه کرامو سره سیالي وکړي، دوې د سیالۍ په معنی پوهه شوي دي هغه داچې په عبادت او بندگۍ کې به هیڅوک په خپل ځان نه غوره کوي بلکه د الله پاک بندگۍ او ښو صفاتو ته باید د هر چانه ورمخکي شي، ځکه هغه ځوک چې په عمل کې روستو پاتي شي، نو قوم او قبیله یې نشي مخکي کولی.

تابعینو به داسي ویل: کله چې ته یو ځوک وګورې چې له تاسره په دنیا کې سیالي کوي ته ورسره په اخرت کې سیالي وکړه، او که کولی شي

چې ستانه مخکې هیڅوک د الله بندګي ته مخکي نشي نو دا کار وکړه.

سلف صالحین د سنتو په تابعدارۍ کې ډیر زیات حرصناک وو او په هر څه کې به یې د سنتو تابعداري کوله.

امام احمد بن حنبل رحمه الله به ویل: ما چې هریو حدیث لیکلی دی په هغې مې عمل هم کړی دی، تردې چې یوه ورځ مې دا حدیث مخې ته تیر شو چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ښکر ولګولو او ابو طیبه ښکر لګونکي ته یې یو دینار ورکړ، ما هم په دې حدیث عمل وکړ کله چې مې ښکر ولګولو نو ښکر لګونکي ته مې یو دینار ورکړ تر څو په دې حدیث عمل وشي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله دا هم ویلي دي: که کولی شي چې خپل سر ، ونه ګروې مګر د حدیث په بنیاد باندې نو دا کار وکړه - یعنې په هر څه کې د سنت تابعداري کوه ـ دا ځکه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دین او بشریت دواړه په کامل درجه کې دي امام نووي رحمه الله هم دا ویلي دي: که ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سیرت او صورت ته وګورې دومره ښایست لري چې د هغې نه زیات نور ښایست وجود نلري.

او که د هغه اخلاقو او خویونو ته وګورې دومره کمالي دي چې د هغې نه زیات نور کمال نشته.

او که د هغه احسان او مهربانۍ ته وګورې چې په ټولو خلکو باندې عموما او په مسلمانانو باندې خصوصا مهربانه دی دومره مهرباني چې د هغې نه زیات مهرباني او احسان نور نشته.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم محبت او تابعداري چې یو بنده ته نصیب شي دا ډېر لوې نعمت دی، ابن القیم رحمه الله ویلي دي: کله چې بنده د خپل رب سره رښتنی وي الله پاک ورته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم محبت ور په برخه کوي بیا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تابعداري کوي هغه یې امام پیشوا، معلم او رهنما وي، د هغه نه هدایت اخلي د هغه سیرت ګوري د هغه اخلاق، اداب، عبادات، او د هغه معاملات، د هغه تعامل د خپل اهل او ملګرو سره ددې ټولو نه ځان خبره وي داسې وي لکه د هغه ملګری. مدارج السالکین (۲٦۸/۳) .

بلکه زه وایم که چاته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ملګرتوب نصیب شوی نه وي نو د هغه د سنتو سره د ې ملګرتوب وکړي د هغه د سنتو سره ملګرتوب او په هغې عمل کول د هغه سره ملګرتوب دی.

خومره ښایسته ژوند به وي چې ستا هره ورځ دخپل خوږ نبي صلی الله علیه وسلم سره وي په هر څه کې د هغه تابعداري کوي عجیبه خوشحالي او سعادت به ستا په زړه باندې راشي او خوشحالي به ولي نه وي چې په ټولو مخلوقاتو کې د غوره شخصیت تابعداري کوی لکه چې ورته ګوری تجربه وکړه خامخا به یې اثر ووینې زه غواړم او امید لرم چې ستا راتلونکې نورې ټولې ورځې به د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره وي او د هغه تابعداري به کوې.

پاملرنه: د خاص فضلیت لپاره د یوې ورځې تخصیص کول چې شریعت کې نه وي جواز نلري، خو هره ورځ چې ته انتخابه وي ترڅو د هغې نه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تابعداري شروع کړي د ملګرتوب ډېره ښه

شروع به وي مخکې د دينه چې مونږ د خوږ نبي صلى الله عليه وسلم سره ورځ شروع کړو، د هغه بعضې صفات بيانول ضروري ګڼم.

# د نبي كريم ﷺ
# ځينې پيدايشي صفات

**نبي** كريم صلى الله عليه وسلم درميانه قد واله اود دواړه اوږو په مينځ كې لرې والى و، د سر مبارك ويښتان يې د غوږونو تر نرمو رسيدل په ټولو خلكو كې يې ډير ښايسته مخ او ښايسته اخلاق لرل نه ډير اوږد و او نه ډير لنډ بلكه درميانه قد يې لرلو، نه ډير تک سپين و او نه ډير سور رنگ واله و، د سر مبارک ويښتان يې نه ډير گړ گوتي و او نه ډير اوږده و[١]. په ټولو خلكو كې د ښايسته سپين مخ واله وو لكه د سپينو زرو ټوټه د بدن خوله يې د ملغلرو پشان وه او د گيرې ويښتان يې ډير وو[٢] . د جابر بن سمره رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې ايا د نبي كريم صلى الله عليه وسلم مخ مبارك د توري پشان و؟ هغه په جواب كې وويل: د نبي كريم صلى الله عليه وسلم مخ مبارك د نمر او سپوږمې پشان و اوږد نه و بلكه گرد برابر و[٣]. د نبي كريم صلى الله عليه وسلم خوله او سترگې مباركې غټې وې او پنډې مباركې ډيرې پيرې نه وې د مخ مبارک رنگ

---

(1) بخاري

(2) مسلم

(3) مسلم

يې سپين ښايسته و[1]. لاسونه مبارک او د خپو قدمونه يې غټ او د لاسونو ورغوې يې پراخه و[2].

انس بن مالک رضي الله عنه فرمايلي دي: ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ورغويو پشان نرم نه غټ وريښم او نه نرم وريښم ليدلي دي، او ما دنبي کريم صلى الله عليه وسلم د بدن د خوشبو پشان نه مشک ليدلي او نه عنبر د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د بدن خولې مبارکې به د شيشي په بوتل کې د بهترينو عطر پشان استعمالولى شوي[3].

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورځ به څنګه تيريده دا په مختصره توګه بيانوم، د حديث په تصحيح کې ما اعتماد د امام الباني رحمه الله چې د موجوده عصر محدث دى کړې دى مګر ډېر کم د ضرورت په بنياد مې کله نا کله د بل محدث نه هم نقل کړې دى.

(1) مسلم
(2) بخاري
(3) مسلم

# د خوب نه بیداریدل، او دس کول، او د شپې قیام کولو کې د نبي کریم ﷺ طریقه

**نبي** کریم صلی الله علیه وسلم چې به کله د خوب نه را ویښ شو دا دعا به یې ویله:

**(الحمد لله الذي أحيانا بعدما أماتنا وإليه النشور)**[1].

ټول د کمال صفتونه الله لره دي هغه ذات چې مونږ یې د مرګ (خوب) نه بعد بیرته راژوندي کړو، او یواځې هغه ته ورتلل دي ( د مرګ نه بعد).

بیابه یې مسواک استعمال کړ، او د سورت ال عمران دا یاتونه به تر اخره تلاوت کړه ﴿إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ﴾ [سورة أل عمران: ۱۹۰].

بیشکه په پیدایش د اسمانونو، زمکه او په اختلاف د ورځې او شپې کې ډیر دلیلونه دي د خالص عقل والو لپاره.

بیا به نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ښه طریقه اودس وکړ، بیت الخلاء ته د داخلیدلو په وخت به یې دا دعا ویله:

---

(1) مسلم

**(اللهم إني أعوذ بك من الخبث والخبائث)**[١].

الله پاک زه په تاپورې د نارینه او ښځینه شیطانانو نه پناه غواړم.

اود بیت الخلاء نه د راوتلو په وخت به یې دا دعا ویله: (**غفرانك**)[٢].

الله پاک ستانه بښنه غواړم.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به کله استنجا په اوبو سره کوله او کله به یې په دري کاڼو سره کوله او کله به یې اوبه او کاڼي دواړه استعمالول.[٣].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د قضا حاجت په وخت خپل ځان پټولو ، او قضا حاجت به یې په ناسته کولو[٤].

نبي کریم صلی الله علیه سلم به په اودس کولو کې اوبه کمې استعمالولې، اول به یې دواړه لاسونه درې ځل وینځل بیا به یې مضمضه (خوله وینځل) او استنشاق (پوزه وینځل) درې ځل په درې لپو د هرې لپې نیمایې اوبه به د خولې لپاره او نیمایې نورې بیا د پوزې لپاره وې په ښي لاس به یې پوزې ته اوبه اچولې او په چپ لاس به یې پوزه صفا کوله[٥]. د استنشاق (پوزې ته اوبه اچول) په دې هکله یې هغه چاته چې روژه یې نه وي د مبالغې امر کړی دی[٦]. بیا به یې خپل مخ مبارک د سر ویښتانو دراټکیدو نه واخله تر ګیرې پورې درې ځله ووینځله [٧] او خپله

(1) بخاري
(2) ابن ماجه
(3) بخاري
(4) ترمذي
(5) بخاري
(6) ابو داود
(7) بخاري

گيره مبارکه به يې کله نا کله خلالوله [1]. بيا به يې خپل دواړه لاسونه تر ځنګلو پورې درې ځل ووينځل[2]. او د اودس کولو په وخت يې د ګوتو خلالولو ته ترغيب ورکړی دی[3].

بيا به يې خپل سر په دواړه لاسونو سره مسح کړ د سر د مخکې برخې نه به يې شروع وکړه تر څټ پورې به يې لاسونه يوړل او بيا به يې بيرته لاسونه هغه ځای ته را واپس کړل د کوم ځای نه چې به يې مسح شروع کړی وه[4].

بيا به يې د غوږونو ظاهر ( ښکاره) او باطن ( دننه ) مسح کړل[5]. بيا به يې خپلې دواړه خپې د ګټکيو پورې درې ځل ووينځلې[6].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(ما منكم من أحد يتوضأ فيسبغ الوضوء ثم يقول: أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك لـه وأشهد أن محمداً عبده ورسوله إلا فتحت لـه أبواب الجنة الثمانية يدخل من أيها شاء)**[7].

هيڅ يو کس په تاسې کې نشته چې کامل اودس وکړي او بيا دا وايې:

**(أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك لـه وأشهد أن محمداً عبده ورسوله)**.

(1) ترمذي
(2) بخاري
(3) ابو داود
(4) بخاري
(5) ابو داود
(6) بخاري
(7) مسلم

زه گواهي ورکوم چې نشته حقدار د بندگې مگر يواځې الله پاک دی چې شريک نلري، او گواهي ورکوم چې محمد صلى الله عله وسلم د الله پاک بنده او د هغه رسول دی.

مگر د جنت اته واړه دروازې به ورته کلاو شي د هرې دروازې نه چې يې خوښه شي داخل دې شي.

او ورسره به دا دعا هم ووايي:

**(اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين)**[١].

الهي! ما د توبه کونکو او پاکي کونکو بندگانو څخه وگرځوې.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(إذا توضأ العبد المسلم أو المؤمن فغسل وَجْهه، خرج من وَجْهه كل خطيئةٍ نظر إليها بعينيه مع الماء، أو مع آخرِ قَطْرِ الماء، فإذا غسل يديه خرج من يديه كل خطيئةٍ كان بَطَشَتها يداهُ مع الماء، أو مع آخرِ قَطْرِ الماء، فإذا غسل رجليه خرجت كل خطيئةٍ مَشَتها رِجْلاهُ مع الماء، أو مع آخرِ قَطْرِ الماء حتى يَخْرُجَ نقــيّاً من الذنوب)**[٢].

مسلمان بنده يا مؤمن چې کله اودس کوې، او مخ ووينځې د مخ نه يې د اوبو سره يا د اوبو د اخرني څاڅکي سره هغه گناه ورژيږي کومې ته چې يې په سترگو کتلي وي، او کله چې لاسونه ووينځې د لاسونو نه يې د اوبو سره يا د اوبو د اخرني څاڅکي سره هغه گناه ورژيږي کومه چې يې په

(1) ترمذي

(2) مسلم

لاسونو کړي وي، او چې کله خپې ووینځي د خپو نه يې د اوبو سره يا د اوبو د اخرني څاڅکي سره هغه ګناه ورژيږي کومه چې يې په خپو کړي وي، تر دې چې د ګناهونو نه پاک ووځي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د شپې يوولس رکعته لمونځ کولو څلور رکعته به يې وکړل د ښايست او اوږدوالي تپوس يې مه کوه بيا به يې څلور رکعته وکړل د ښايست او وږدوالي تپوس يې مه کوه بيا به يې درې رکعته وتر وکړل، او کله نا کله به يې ديارلس رکعته لمونځ وکړ بيا به يې لږ وخت تکيه ولګوله تر دې چې مؤذن به راغلې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به ولاړ شو او دوه رکعته مختصر به يې د سهار سنت وکړل او کله نا کله به يې د سهار د سنتو نه بعد په ښي اړخ تکيه هم ولګوله [۱].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د سهار په سنتو کې سورت الکافرون او سورت اخلاص لوستلو[۲].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې به کله د مؤذن اذان اوريدلو د هغه پشان به يې د اذان جواب ورکولو، مګر کله چې به مؤذن په اذان کې (**حي على الصلاة**) او (**حي على الفلاح**) وويله نبي کريم صلی الله عليه به لاحول ولا قوة الا بالله ويله.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د اذان جواب ورکړي جنت ته به داخل شي، او د اذن نه بعد يې د درود ويلو حکم هم کړی دی[۳].

(1) بخاري
(2) مسلم
(3) مسلم

نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې اذان واوري او بیا دادعا ووایي زما شفاعت به يې نصيب شي : (**اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة آت محمداً الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاماً محموداً الذي وعدته**)[1]. الهي! او د دې پوره دعوت او قائم شوي لمانځه ربه، محمد صلی الله علیه وسلم ته د جنت هغه اعلی مقام او فضيلت ورکړې او هغه مقام محمود ورته ور په برخه کړي د کوم چې تا ورسره وعده کړې ده.

نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې اذان واوري او بیا دا دعا ووایی ګناهونه به يې معاف شي:

(**أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك لـه وأن محمداً عبده ورسوله رضيت بالله رباً وبمحمد رسولاً وبالإسلام ديناً**)[٢].

زه ګواهي ورکوم چې نشته هیڅ معبود برحق مګر يواځې الله پاک دی هیڅ شریک نلري، او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه بنده او پیغمبر دی، زه راضي يم د الله پاک په ربوبيت او د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت او د اسلام په مبارک دين باندې.

بیا به نبي کريم صلی الله علیه وسلم لمانځه ته ووتلو او مسجد ته د تللو په وخت به يې دا دعا لوستله:

(**اللهم اجعل في قلبي نوراً وفي لساني نوراً وفي سمعي نوراً وفي بصري نوراً ومن فوقي نوراً ومن تحتي نوراً وعن يميني نوراً وعن شمالي نوراً ومن أمامي نوراً ومن خلفي نوراً وعظّم لي نوراً** )[٣].

(1) بخاري

(2) مسلم

(3) مسلم

الهي! زما په زړه، ژبه، غوږونو، او په سترګو کې رڼا پيدا کړې ، الهي! زما نه بره، او ښکته، ښي طرف ته، او چپ طرف ته، زما نه مخکې او روسته، رڼا پيدا کړې، الهي! زما رڼا زياته کړې.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(بشر المشائين في الظلم إلى المساجد بالنور التام يوم القيامة)**[1].

په تيارو کې مسجدونو ته تلونکو لپاره د قيامت په ورځ د پوره رڼا زيرى ورکړئ.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به چې کله مسجد ته داخليدلو خپله ښي خپه به يې مخکې کړه او دا دعا به يې ولوستله:

**(أعوذ بالله العظيم وسلطانه القديم من الشيطان الرجيم)**[2].

په عظيم الله پاک سره او د هغه په پخوانۍ بادشاهۍ سره د شيطان رټلی شوی نه پناه غواړم.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به چې کله مسجد ته داخليدلو دا دعا به يې لوستله:

**(بسم الله والسلام على رسول الله اللهم اغفر لي ذنوبي وافتح لي أبواب رحمتك)**.

د الله پاک د نوم په مدد او سلام دې وي د الله په رسول، الهي! زما ګناهونه وبښې او د ستا د رحمت دروازې راته کولاو کړې.

---

(1) ابو داود

(2) ابو داود

او چې کله به د مسجد نه وتلو دا دعا به یې لوستله.

**(بسم الله والسلام على رسول الله اللهم اغفر لي ذنوبي وافتح لي أبواب فضلك)**[1].

د الله پاک د نوم په مدد او سلام دې وي د الله په رسول، الهي! زما ګناهونه وبښې او د ستا د فضل دروازې راته کولاو کړې.

همدغه شان یې د مسجد نه د وتلو په وخت د دې دعا لوستلو ته تر غیب ورکړی دی.

**(اللهم اعصمني من الشيطان الرجيم)** [2].

الهي! د شیطان رټلی شوی نه مې وساتې.

(1) ابن ماجه

(2) ابن ماجه

# په لمانځه کې
# د نبي کريم ﷺ طريقه

**په لمانځه** کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سترګو يخ والی او د هغه راحت او د مشکلاتو نه د خلاصون لار وه، نبي کريم صلی الله عليه وسلم به چې کله لمانځه ته پاځيده مسواک به يې استعمال کړ[1]. د لمانځه په وخت به يې خپله نيزه به د سترې لپاره خپلې مخې ته کېښوده او هغې ته به نېژدې ودريد، او لمونځ کونکی ته يې دا حکم کړی دی چې د لمانځه په وخت هيڅوک پرينږدي چې مخې ته يې تېر شي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به قبلې ته مخامخ شو بيا به يې الله اکبر وويلو[2].

لا سونه به يې د اوږو سره برابر د غوږونو تر نرمو پورې اوچت کړل د لاسونو ګوتې به يې قبلې ته مخامخ او سيده وې[3]. بيا به يې د ښي لاس

(1) بخاري
(2) مسلم
(3) بخاري

ورغوی د چپ لاس په ورغوي د پاسه په سينه باندي کيښود [1]. او په لمانځه کې به يې هميشه د سجدې ځاې ته کتل تر دي چې لمونځ به يې مکمل کړ[2].

د لمانځه پيل به يې په دې دعا سره کولو:

**(اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب، اللهم اغسلني من خطاياي بالماء والثلج والبرد، اللهم نقني من الذنوب والخطايا كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس)**[3].

الهی! زما او زما د ګناهونو ترمينځ لرې والی راوله لکه څرنګه چې تا لرې والی راوستی دی د مشرق او مغرب ترمينځ، الهی! ما د ګناهونو نه په اوبو، واوره، او ګلې سره ووينځه، الهي! ما د ګناهونو نه داسي پاک کړه لکه څرنګه چې سپينه جامه د خيرو نه صفا کولی شي.

بيا به يې (**أعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم من همزه ونفخه ونفثه**) ويله [4]. په الله پاک سره چې اوريدونکی او پوهه ذات دی د شيطان رټلی شوي او د هغه د وسوسو نه. پناه غواړم.

بيا به يې (**بسم الله الرحمن الرحيم**) په پټه ويله جهر به يې ورباندي نه کولو [5].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د سورت فاتحې لوستلو په وخت په هر

(1) ابو داود
(2) بيهقي
(3) بخاري
(4) ابو داود
(5) بخاري

ایت وقف کولو. (**الحمد لله رب العالمین**) به یې وویلو بیا به یې وقف وکړو، بیا به یې (**الرحمن الرحیم**) وویلو بیا به یې وقف وکړو بیا به یې (**مالك یوم الدین**) وویلو همدغه شان د سورت تر اخره پورې به یې په هر ایت باندې وقف کولو [۱]. او چې کله به یې سورت فاتحه ولوستله اخره کې به یې په اوچت اواز سره آمین ویلو، او دا خبر یې ورکړی دی چې د هرچا آمین ویل د ملائکو د آمین ویلو سره برابر شول مخکنې ټول ګناهونه به یې معاف شي[۲].

د سورت فاتحې نه بعد به یې د سهار په لمانځه کې د طوال مفصل سورتونه لوستل، د سورت ق نه تر سورت مرسلات پورې دا طوال مفصل سورتونه دي[۳].

د سهار په لمانځه کې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شپیتو نه تر سلو آیاتونو پورې لوستل او د جمعې په ورځ به یې د سهار د لمانځه په اول رکعت کې سورت الم سجده او په دویم رکعت کې سورت الدهر لوستلو [٤]. او د ماسپښین لمانځه په اولني دوه رکعتونو کې به یې په هر رکعت کې د دیرش آیاتونو په مقدار، او په روستني دوه رکعتونو کې به یې د پنځلس آیاتونو او یا ددې په نیمایې مقدار لوستل کول او د مازیګر د لمانځه په اولني دوه رکعتونو کې به یې  په هر رکعت کې د پنځلس آیاتونو په مقدار، او په روستني دوه رکعتونو کې به یې ددې په

(1) ابو داود
(2) بخاري
(3) نسائي
(4) بخاري

نيمايي لوستل کول[١]. او کله به يې د ماسپښين او مازيگر لمانځه کې يواځې سورت فاتحه لوستله [٢]. او کله نا کله به يې په خفيه لمونځ کې لوستل په داسي انداز وکړل چې مقتديانو به واوريدل[٣]. او د ماښام په لمانځه کې به يې قصار مفصل سورتونه لوستل د سورت ضحی نه تر سورت الناس پورې ديته قصار مفصل سورتونه وايی او کله به يې د قصار مفصل نه غير نور سورتونه لکه سورت طور او سورت اعراف وغيره لوستل، او د ماخو ستن په لمانځه کې به يې اوساط مفصل سورتونه لوستل[٤]. د سورت نازعات نه تر سورت ضحی پورې سورتونو ته اوساط مفصل سورتونه وايي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به چې کله د قرائت نه فارغ شو لاسونه به يې پورته کړل (رفع اليدين به يې وکړل) الله اکبر به يې وويلو او رکوع ته به لاړو، لاسونه به يې په زنگنونو کيښودل[٥]. په داسي طريقه چې زنگنونو به نيولي وو، او د لاسونو گوتي به يې کولاو کړې وې او څنگلې به يې د اړخونو نه لرې کړې وې.[٦]. د رکوع په حالت کې به يې خپله ملا هموار او برابره کړه[٧]. د رکوع په حالت کې به يې خپل سر نه ډير پورته او نه ډير ښکته نيولو بلکه د ملا سره به يې برابر به و[٨]. او (**سبحان ربي العظيم** ) به

(1) مسلم
(2) بخاري
(3) بخاري
(4) نسائي
(5) بخاري
(6) ابو داود
(7) بخاري
(8) مسلم

يې درې ځله او کله به يې د درې ځل نه زيات تکراره ول[1]. په رکوع کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه دا دعاګاني هم ثابت دي: **(سبوح قدوس رب الملائكة والروح)** [2] الله تعالى پاک ذات دی د ملائکو او جبريل عليهم السلام رب دی **(سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم أغفر لي)** [3]. پاکي ده تالره يا الله زموږ رب يې الهي! ماته بښنه وکړي.

دا دعا به نبي کريم صلى الله عليه وسلم په رکوع او سجده کې ډيره غوښتله.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**( ألا وإني نهيت أن أقرأ القران راكعاً أو ساجداً فأما الركوع فعظّموا فيه الرب وأما السجود فاجتهدوا في الدعاء فقَمِنٌ أن يستجاب لكم )**[4].

خبر دار زه منع کړی شوی يم چې د رکوع او سجدې په حالت کې قرآن ولولم هر چې د رکوع حالت دی، په هغې کې د الله پاک تعظيم بيان کړې او هر چې د سجدې حالت کې په هغې کې د د عا ډير اهتمام وکړې ستاسې د دعاګانو د قبليدلو لپاره د سجدې حالت ډير مناسب دی.

بيا به د رکوع نه اوچت شو (سمع الله لمن حمده) به يې وويله او لاسونه به يې اوچت کړل (رفع اليدين به يې وکړل) او د ولاړې په حالت کې به يې **(ربنا ولك الحمد)** يا **(ربنا لك الحمد)** يا **(اللهم ربنا ولك الحمد)** يا

(1) ابن ماجه

(2) مسلم

(3) بخاري

(4) مسلم

**(اللهم ربنا لك الحمد)** وويل، او نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: **(إذا قال الإمام سمع الله لمن حمده فقولوا: اللهم ربنا لك الحمد فإنه من وافق قوله قول الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه )**[١]. كله چې امام **(سمع الله لمن حمده)** ووايي: تاسې **(ربنا لك الحمد)** ووايئ، بیشکه د چا دا وینا چې د ملائکو د وینا سره برابره شي مخکني ګناهونه به يې وبښل شي.

د **(سمع الله لمن حمده)** معنی: څوک چې د الله پاک حمد و ثنا بيان کړې الله پاک يې قبلوي.

د **(ربنا لك الحمد)** معنی: ای زمونږ پروردګاره ټول د کمال صفتونه تالره ثابت دي.

ددينه بعد دا ذكر ويل هم ثابت دي **(حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه)** حمد و ثنا الله پاک لره ده ډېره پاکه او مبارکه.

د دې کلماتو په هکله نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(رأيت بضعةً وثلاثين ملكاً يبتدرونها أيهم يكتبها أولاً)**[٢].

څه د بره ډېرش ملائکې مې وليدلې هرې يوې کوشش کولو چې د دې کلماتو ليکلو ته وروړاندې شي.

او کله به نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورسره دا كلمات هم اضافه كول:

**(ملء السموات وملء الأرض وملء ما شئت من شيءٍ بعد)**[٣].

(1) بخاري
(2) بخاري
(3) مسلم

الهي! ستا لپاره حمد وثنا ده په اندازه د ډکوالي د اسمانونو او زمکې او په اندازه د ډکوالي د هغه څه چې ته يې روستو وغواړې ( د الله پاک حمدو ثنا بې انتها) ده.

بیا به يې الله اکبر وویلو او سجدې ته به لاړو[1]. او د سجدې په حالت کې به يې خپله پوزه او تندی په زمکه کیښود او دلاسونو ورغوې به يې خواره کړل گوتې به يې را یو ځاې سیده او د اوگو برابر قبلې ته مخامخ کړې[2].

او کله به يې د سجدي په حالت کې د لاسونو گوتې د غوږونو برابر قبلې ته مخامخ کړې[3].

او د سجدې په حالت کې به يې زگنونه او د خپو د گوتو دننه اړخونه په زمکه ایښي و[4].

او د گوتو سرونه به يې قبلې ته مخامخ و، ورنونه به يې د پنډیو او خیټې نه او خنگلې به يې د اړخونو نه لري ساتلې تر دې چې د تخرگونو سپینوالی به يې ښکاره شو[5]. او په سجده کې به يې (**سبحان ربي الأعلى**) درې ځله ویل او کله به يې د درې ځل نه زیات هم ویل[6].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په سجده کې دا دعا هم ویله:

(1) بخاري
(2) ابو داود
(3) نسائي
(4) بیهقي
(5) بخاري
(6) ابن ماجه

**(اللهم اغفر لي ذنبي كله دقه وجله وأوله وأخره وعلانيته وسره)**[١].

الهي! زما ټول گناهونه، واړه وي، که غټ، ښکاره وي، که پټ، اولني، او اخرني ټول معاف کړې.

**(اللهم لك سجدت وبك آمنت ولك أسلمت، سجد وجهي للذي خلقه وصوره وشق سمعه وبصره فتبارك الله أحسن الخالقين)**[٢].

الهي! ستا لپاره مې سجده وکړه، په تا مې ايمان راوړی دی، او ستا تا بعدار يم، زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه کوم ذات چې پيدا کړی دی او شکل يې ورکړی دی غوږونه او سترگې يې ورله جوړې کړې دي، د برکت واله ذات الله پاک دی ډير ښائسته پيدا کونکی دی.

**(اللهم إني أعوذ برضاك من سخطك وأعوذ بمعافتك من عقوبتك وأعوذ بك منك لا أحصي ثناءً عليك أنت كما أثنيت على نفسك)**[٣].

الهي! ستا په رضا سره ستا د غوسې نه پناه غواړم او ستا په عافيت سره ستا د سزا نه پناه غواړم، او په تا سره ستا د عذاب نه پناه غواړم زه نشم کولی چې ستا هغه شان مناسب ثنا او صفت وکړم کوم چې تا د خپل ځان کړی دی.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(أقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد فأكثروا الدعاء)**[٤].

---

(1) مسلم

(2) مسلم

(3) مسلم

(4) مسلم

د سجدې په حالت کې بنده خپل رب ته ډیر نیژ دې وي نو تاسې د سجدې په وخت ډیرې دعا ګاني وغواړئ.

بیا به یې د سجدې نه سر را پورته کړ، او الله اکبر به یې وکړ[1]. تردې چې برابر به کیناست خپله چپه خپه به یې هموار کړه په هغې به کیناست او خپله ښي خپه به یې ودروله او ګوتې به یې قبلې ته مخامخ کړې[2]. او خپل دواړه لاسونه به یې په ورنونو یا زنګنونو باندې کیښودل[3]. او دا دعا به یې وویله :

**(رب اغفر لي وارحمني واجبرني وارفعني واهدني وعافني وارزقني)**[4].

ای زما ربه! ماته ښښنه وکړې او په ما رحم وکړې، زما نقصان پوره کړې ماته اوچت مقام راکړې، ماته د سمې لارې هدایت وکړې، ماته عافیت او رزق راکړې.

او کله به یې دا دعا ویله:

**(رب اغفر لي رب اغفر لي)**[5].

ای زما ربه ! ماته ښښنه وکړې، ای زما ربه ! ماته ښښنه وکړې.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د دوو سجدو په مینځ کې ډیر وخت کیناسته تر دې چې څومره وخت به یې په سجده کې تیروو هغې ته نیژ

(1) بخاري
(2) نسائي
(3) مسلم
(4) ابو داود + ترمذي
(5) ابن ماجه

دې وخت به یې د دوو سجدو په مینځ کې تیروو[1]. بیابه دویمه سجده د اولې سجدې په شان وکړه او د ویم رکعت ته په ولاړ شو.

او د تشهد لپاره د کیناستلو په وخت به یې خپل ښي ورغوی په خپل ښي ورون یا زنگون باندې کیښود او د غټې گوتې سره نیژدې (سونده) گوته باندې به یې د قبلې طرف ته اشاره کوله او همدغه گوتې ته به یې حرکت ورکولو او ورته به یې کتل او نورې گوتې د ښي لاس به یې را غونډې کړې وې[2]. او یا به یې د مینځنی او غټې گوتې سرونه یوځای کړل او د کړې شکل به یې جوړ کړ[3].

او د چپ لاس ورغوی به یې په خپل چپ ورون یا زنگون باندې کیښود[4]. او په تشهد کې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا دعا لوستله:

**(التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله اللهم صل على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم، وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد)**[5].

ټول مالي، ژبني او بدني عباداتونه الله پاک لره دي، سلامونه، رحمتونه او برکتونه دې وي په تا باندې ای پیغمبره! سلامتیا دې وي په مونږ او د

(1) بخاري+ مسلم
(2) مسلم
(3) نسائي
(4) مسلم
(5) بخاري

الله په نیکانو بنده ګانو باندي، زه ګواهي ورکوم چې معبود برحق نشته مګر یوازې د الله پاک ذات دی، زه ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله پاک بنده او د هغه پیغمبر دی، الهي! رحمتونه راولیږې په محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په آل باندي لکه څنګه چې تا رحمتونه کړي وو په ابراهیم علیه السلام او د هغه په آل باندي.

الهي! برکتونه را نازل کړې په محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په آل باندي، لکه څنګه چې تا برکتونه نازل کړي وو په ابراهیم علیه السلام او د هغه په آل باندي، بیشکه ته ستایلی شوی او لوې ذات یې.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې کله دریم رکعت ته پاڅیده نو الله اکبر به یې وکړ او لاسونه به یې پورته کړل (**رفع الیدین**) به یې وکړل[۱]. او چې کله به اخرني قعدې کې د تشهد لپاره کیناست هغه دعا به یې وویله کومه چې به یې په ړومبني تشهد کې ویله خو په اخرني تشهد کې به یې تورک کولو ( خپله ښي خپه به یې ودروله او چپه خپه به یې د ښي ورون نه لاندي کړه).[۲].

نبي کریم صلی اله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(إذا فرغ أحدكم من التشهد فليستعذ بالله من أربع يقول: اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم ومن عذاب القبر ومن فتنة المحيا والممات ومن شر فتنة المسيح الدجال)**[۳].

(1) بخاري

(2) بخاري+ مسلم

(3) مسلم

کله چې تاسې کې یو څوک د تشهد نه فارغه شي نو د څلورو شیانو نه دې په الله پاک پورې پناه وغواړي، او داسې دې ووایی: الهي! زه په تاسره د جهنم د عذاب نه پناه غواړم، او د قبر د عذاب نه پناه غواړم د ژوند او مرګ د فتنو نه پناه غواړم، د دجال د فتنې د شر نه پناه غواړم.

بیا به یې د ځپل ځان لپاره هغه دعا غوښتله چې به یې خوښه شوه [1].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ابو بکر صدیق رضي الله عنه ته فرمایلي وو تر څو د الله پاک نه دا دعا وغواړي:

**(اللهم إني ظلمت نفسي ظلماً كثيراً ولا يغفر الذنوب إلا أنت فاغفر لي مغفرة من عندك وارحمني إنك أنت الغفور الرحيم)**[2].

الهي! په ځان مې ډېر ظلم کړی دی، او ګوناهونه یواځې ته معاف کوې، د خپل طرف نه راته ښښنه وکړې، رحم راباندې وکړې بیشکه ته ښښنه کونکی او مهربانه یې.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه ته وصیت کړی وو تر څو د هر فرضي لمانځه نه بعد دا دعا وغواړي:

**(اللهم أعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك)**[3].

الهي! ستا په شکر، ذکر او ښایسته عبادت کولو باندې زما مدد وکړې.

د تشهد او سلام ګرځولو په مینځ کې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم اخري دا دعا ویله:

(1) نسائي

(2) بخاري

(3) ابو داود

**(اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أعلنت وما أسرفت وما أنت أعلم به مني أنت المقدم وأنت المؤخر لا إله إلا أنت)**[١].

الهي! زما ټول ګناهونه، مخکني روستني پټ، ښکاره، هغه چې ما په خپل ځان زیاتی کړی، او هغه چې تاته زمانه ښه معلوم دي زما ټول ګناهونه معاف کړې، یواځې ته مخکې کوونکی او روستو کوونکی یې بل هیڅ معبود برحق نشته مګر یواځې ته یې.

بیا به نبي کریم صلی الله علیه وسلم د سلام په دې الفاظو **(السلام علیکم ورحمة الله)** سره ښي طرف ته سلام وګرځولو تر دې چې د انګو سپین والی به یې ولیدل شو.

او بیابه یې چپ ته طرف ته سلام وګرځولو تردې چې د انګو سپین والی به یې ولیدل شو[٢]. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې کله سلام وګرځولو درې ځل به **(أستغفر الله)** وویل او بیابه یې **(اللهم أنت السلام ومنك السلام تبارکت یا ذا الجلال والإکرام)**[٣]. الهي! ته د سلامتیا واله ذات یې، او سلامتیا ستا له طرف نه ده دبرکت واله ذات ای د جلال او عزت مالکه.

بیابه یې دا دعا ویله:

**(لا إله إلا الله وحده لا شریك له، له الملك ولـه الحمد وهو على كل شيء قدير اللهم لا مانع لما أعطیت ولا معطي لما منعت ولا ینفع ذا الجَدّ منك الجَدّ)**[٤].

(1) مسلم
(2) مسلم
(3) مسلم
(4) بخاري

نشته هیڅ معبود برحق مگر یواځې د الله پاک ذات دی هیڅ شریک نلري، د هغه لپاره بادشاهي او ستاینه ده، او هغه په هرڅه باندي قدرت لرونکی دی، الهي! ته چې څه ورکړې هیڅوک هغه نشي منع کولی، او ته چې څه منع کړې هیڅوک هغه نشي ورکولی، او مالداره ته ستا د عذاب نه د هغه مال هیڅ فایده نشي ورکولی.

**(لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، ولا حول ولا قوة إلا بالله، لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون)**[١].

نشته هیڅ معبود برحق مگر یواځې د الله پاک ذات دی هیڅ شریک نلري، د هغه لپاره بادشاهي او ستاینه ده، او هغه په هرڅه باندي قدرت لرونکی دی، نشته بچاو د گناه نه او طاقت په نیکۍ مگر د الله پاک لخوا نه، مونږ بندگي نه کوو مگر یو اځې د الله پاک د هغه نعمتونه دي او د هغه لپاره فضیلت او ښایسته ستاینه ده، مونږ دین د هغه لپاره خاص کوو اگر که کافران یې بد گڼي.

**(رب قني عذابك يوم تبعث عبادك)**[٢].

پروردگاره ستا د عذاب نه مې په هغه ورځ بچ کړې په کومه ورځ چې خپل بندگان بیرته را ژوندي کوې.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل امت ته دا ترغیب ورکړی دی چې د هر فرض لمانځه نه بعد درې دیرش ځله (سبحان الله) او درې دیرش ځله

(1) مسلم

(2) مسلم

**(الحمد لله)** او درې ديرش ځله **(الله أكبر)** ووايي دا ټول نهه نوي ځل شو، د سل ځل پوره کولو لپاره **(لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير)**. ووايي د دې پورتني ذکر بدله داده چې ټول ګناهونه به يې معاف شي اګر چې د سمندر د زګ برابر ولي نه وي[١].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به دا ذکر په اوچت اواز سره او ګوتو باندي کولو.[٢].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د هر فرض لمانځه نه بعد ايت الکرسي لولي د ده او د جنت ته د داخليدلو په مينځ کې بل مانع نشته مګر مرګ دی، (د مرګ سره سم به جنت ته داخل شي)[٣]. نبي کريم صلى الله عليه د هر لمانځه نه بعد د سورت الفلق او سورت الناس د ويلو حکم کړی دی[٤].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به چې کله د سهار د لمانځه نه سلام وګرځولو نو دا دعا به يې لوستله:

**(اللهم إني أسألك علماً نافعاً ورزقاً طيباً وعملاً متقبلاً)**[٥].

الهي! زه ستانه فايده مند علم او پاک رزق او قبول عمل غواړم.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(من قال قبل أن ينصرف و يثني رجليه من صلاة المغرب و الصبح : لا إله**

(1) مسلم
(2) بخاري+ ترمذي
(3) صحيح الجامع
(4) ابو داود
(5) ابن ماجه

**إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، و له الحمد، يحي و يميت، و هو على كل شيء قدير، عشر مرات، كتب الله له بكل واحدة عشر حسنات، و محا عنه عشر سيئات، ورفع له عشر درجات، و كانت حرزاً من كل مكروه، و حرزاً من الشيطان الرجيم، و لم يحل لذنب أن يدركه إلا الشرك، و كان من أفضل الناس عملا، إلا رجلا يفضله، يقول أفضل مما قال)**[١].

څوک چې د ماښام او سهار د لمانځه نه روستو مخکې ددینه چې د لمانځه نه را ورگرځي او دا دعا لس ځل ووایي:

**(لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، و له الحمد، يحي و يميت، و هو على كل شيء قدير).**

نشته هیڅ معبود برحق مگر یواځې د الله پاک ذات دی هیڅ شریک نلري د هغه لپاره بادشاهي او ستاینه ده، ژوندي کول او مړه کول هغه کوي، او هغه په هرڅه باندي قدرت لرونکی دی، الله پاک به ورله لس نیکیاني ولیکي، او لس گناهونه به یې معاف کړي، لس درجات به یې اوچت کړي، د هر شر او شیطان رټلی شو ي نه به محفوظ شي د شرک نه غیر بله گناه به وربادي نشي غالبه کیدلی چې ده لره هلاک کړې او یا یې عمل برباد کړي او ددې ذکر ویونکی به په ټولو خلکو کې غوره عمل واله وي مگر هغه څوک چې دده نه یې غوره او زیات ووایي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دپنځه وخته لمانځه ډیر اهتمام کولو او دا خبر یې ورکړی دی چې الله پاک په خپلو بندگانو باندي شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی[٢]. نبي کریم صلی الله علیه

(1) صحيح الترغيب

(2) ابو داود

وسلم فرمايلي دي چې په دې پنځه لمونځونو باندي الله پاک دبنده ګناهونه معاف کوي.[1].

او هغه څوک چې پنځه وخته لمونځ لپاره په ښه شان اودس وکړي په خشوع خضوع سره لمونځ وکړي رکوع سجده يې په ښه شان سره ادا کړي، داسي لمونځ به يې د ګناهونو لپاره کفاره شي خو چې د ګناه کبيره ارتکاب ونه کړي[2].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، هغه څوک چې لمونځ نه کوي کافر دی [3].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم په جماعت سره د لمونځ کولو ته ترغيب په هکله فرمايلي دي:

**(صلاة الرجل في الجماعة تُضعَّف على صلاته في بيته وفي سوقه خمساً وعشرين درجة، وذلك أنه إذا توضأ فأحسن الوضوء ثم خرج إلى المسجد لا يخرجه إلا الصلاة لم يخطُ خطوة إلا رُفعت لـه بها درجة وحُطَّ عنه بها خطيئة، فإذا صلى لم تزل الملائكة تصلي عليه ما دام في مصلاه: اللهم اغفر له، اللهم ارحمه، ولا يزال في صلاة ما انتظر الصلاة)**[4].

د يو سړي په جماعت سره لمونځ د کور يا د بازار د لمانځه نه پنځه ويشت درجي غوره دی، دا ځکه چې کله داسړی په ښه شان سره اودس وکړي، او بيا مسجد ته يواځې د لمانځه په خاطر روان شي په هر قدم يې

(1) بخاري
(2) مسلم
(3) نسائي
(4) بخاري+ مسلم

یوه درجه زیاتیږي او یوه ګناه یې ببښل کیږي، کله چې لمونځ ادا کړي ملائکې ورته دخیر دعاګانې کوي تر څو چې د لمانځه په ځاې کې وي ملائکې داسي وایي: الهي! ببښنه ورته وکړې، الهي! رحم ورباندي وکړې، او ترڅو چې د لمانځه انتظار کې وي نو د لمانځه پوره اجر او ثواب ورته ملاویګي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغه خلکو د کورونو سوزول غوښتل کوم خلک چې په جماعت سره لمانځه ته نه حاضریږي[1]. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(من صلى العشاء في جماعة فكأنما قام نصف الليل ومن صلى الصبح في جماعة فكأنما صلى الليل كله)**[2].

هغه څوک چې د ماخوستن لمونځ په جماعت سره ادا کړي لکه چې نیمه شپه یې د الله پاک عبادت وکړ، او هغه څوک چې د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړي لکه چې ټوله شپه یې د الله پاک عبادت وکړ. نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه چاته د جنت زیری ورکړی دی څوک چې د مازیګر او سهار لمونځ په ښه شان سره با جماعت ادا کړي[3].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د سنن رواتب (سنت لمونځ) هم اهتمام کولو، عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمایي:

**(حفظت من النبي ﷺ عشر ركعات : ركعتين قبل الظهر، وركعتين بعدها،**

(1) مسلم
(2) مسلم
(3) بخاري

**ورکعتين بعد المغرب في بيته، وركعتين بعد العشاء في بيته، وركعتين قبل صلاة الصبح)**[1].

ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه لس ركعته (سنت) لمونځ ياد كړى دى: دوه ركعته سنت لمونځ د ماسپښين د لمانځه نه مخكې دوه ركعته روستو، او دوه ركعته سنت لمونځ د ماښام د لمانځه نه روستو په كور كې، او دوه ركعته سنت لمونځ د ماخوستن د لمانځه نه روستو په كور كې، او دوه ركعته سنت لمونځ د سهار د لمانځه نه مخكې.

او كله به يې د ماسپښين د لمانځه نه مخكې په خپل كور كې څلور ركعته سنت لمونځ كولو[2]. نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د ماښام د سنتو په اول ركعت كې سورت كافرون او په دويم ركعت كې به يې سورت اخلاص لوستلو [3]

او د سهار په سنتو كې به يې كله سورت كافرون په اول ركعت او سورت اخلاص په دويم ركعت كې لوستلو او كله به يې په اول ركعت د سنتوكې د سورت بقرې دا ايت:

﴿قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ﴾ [البقرة: ١٣٦]

لوستلو، او په دويم ركعت كې به يې د سورت ال عمران دا ايت:

(1) بخاري
(2) بخاري
(3) ترمذي

﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ﴾ [آل عمران: ٦٤] لوستلو(١).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د ځابښت لمونځ کولو او ابو هريره رضي الله عنه ته يې د دې لمونځ وصيت کړی و(٢). د ځابښت لمانځه په هکله نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د انسان په بدن کې د هر جوړ په بدل کې په هغه باندې يوه صدقه ورکول وي، او د ځابښت لمونځ د هغې تولونه کافي کيږي د انسان په بدن کې ٣٦٠ جوړونه دي معنی دا شوه چې د ځابښت لمونځ د ٣٦٠ صدقو ورکولو په ځای کافي کيږي(٣).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د مازيگر لمانځه نه مخکې څلور رکعته نفلي لمونځ کولو او په هر دوه رکعتونو به يې سلا م گرځولو(٤).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(رحم الله امرأ صلى قبل العصر أربعاً)**(٥).

په هغه چا دې الله پاک رحم وکړي څوک چې د مازيگر د لمانځه نه مخکې څلور رکعته نفلي لمونځ وکړي.

(1) مسلم
(2) مسلم
(3) مسلم
(4) ترمذي
(5) ابو داود

# د سهار او ماښام اذکارو کې د نبي کريم ﷺ طريقه

**نبي** کريم صلی الله عليه وسلم چې به د سهار لمونځ وکړ په خپل ځای به ناست و، د الله پاک ذکر به يې کولو تر دې چې لمر به را ووخت[1].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به سهار، ماښام دا اذکار لوستل:

**(اللهم بك أصبحنا وبك أمسينا وبك نحيا وبك نموت وإليك النشور)**.

الهي! ستا په حکم سره مونږ سهار کړو، او ستا په حکم سره مونږ ماښام کړو، او ستا په حکم سره مونږ ژوند کوو، او ستا په حکم سره مونږ مرو، او يواځې تاته بيرته درتګ دي.

او په ماښام کې به يې د **(أمسينا)** لفظ مخکې کړ او په اخره کې به يې **(وإليك المصير)**. ويلو[2].

**(أصبحنا وأصبح الملك لله، والحمد لله، لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، ربِّ أسألك خير ما في هذا اليوم**

---

(1) مسلم

(2) سلسله احاديث صحيحه

**وخير ما بعده وأعوذ بك من شر ما في هذا اليوم وشر ما بعده، ربِّ أعوذ بك من الكسل وسوء الكبر، ربَّ أعوذ بك من عذابٍ في النار وعذاب في القبر)**[1].

په مونږ سهار شو، بادشاهي او ستاينه ټوله الله پاک لره دی، نشته هيڅ معبود برحق مگر يواځې هغه دی، يو دی هيڅ شريک نلري، او هغه په هر څه باندې قادر دی، ای زما ربه! په دې ورځ کې چې څه خير دی او ددې نه روستو چې څه خير دی زه ستانه د هغې سؤال کوم او په دې ورځ کې چې کوم شر دی يا ددې نه روستو چې کوم شر دی زه په تا پورې د هغې نه پناه غواړم، ای زما ربه! په تاپورې د سستۍ نه او د بوډا والي د بد عمر نه پناه غواړم، ای زما ربه! په تاپورې د جهنم د اور نه، او د قبر د عذاب نه پناه غواړم.

**(أصبحنا على فطرة الإسلام وكلمة الإخلاص، ودين نبيِّنا محمد ﷺ وملَّة أبينا إبراهيم حنيفاً مسلماً وما كان من المشركين)**[2].

مونږ د اسلام په فطرت او د اخلاص په کلمه او زمونږ د نبي محمد صلى الله عليه وسلم په دين او زمونږ د پلار ابراهيم عليه السلام په ملت سهار کړو، چې هغه کلک موحد و او د مشرکانو نه بيزاره وو.

او په ماښام کې به يې د **(أمسينا)** لفظ ويلو.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هر سهار او ماښام دا اذکار ويل:

**(اللهم إني أسألك العفو والعافية في الدنيا والآخرة،اللهم إني أسألك العفو**

(1) مسلم

(2) صحيح جامع

**والعافية في ديني ودنياي وأهلي ومالي،اللهم استر عوراتي وآمن روعاتي، اللهم احفظني من بين يديَّ ومن خلفي وعن يميني وعن شمالي ومن فوقي وأعوذ بعظمتك أن أغتال من تحتي)**[١].

الهي! زه ستا نه د دنيا او د اخرت د معافۍ او سلامتيا سؤال كوم الهي! زه ستا نه زما د دين، اهل و عيال، او مال په هكله د عافيت او سلامتيا سؤال كوم، الهي! عيبونه مې پټ كړې، ويره مې ختمه كړې الهي! زما د مخې طرف نه او د روستو طرف نه، د ښي طرف نه او چپ طرف نه او د بره طرف نه زما ساتنه وكړې، او ستا په لويې سره پناه غواړم چې د لاندې طرف نه هلاک شم.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به سهار، ماښام دا دعا درې ځله لوستله:

**(اللهم عافني في بَدَني، اللهم عافني في سمعي، اللهم عافني في بصري، لا إله إلا أنت، اللهم إني أعوذ بك من الكفر والفقر، اللهم إني أعوذ بك من عذاب القبر لا إله إلا أنت)**[٢].

الهي! ماته د بدن عافيت او سلامتيا راكړې، الهي! ماته د غوږونو عافيت او سلامتيا راكړې الهي! ماته د سترګو عافيت او سلامتيا راكړې، بل هيڅ معبود برحق نشته مګر يواځې ته يې، الهي! په تاپورې د كفر او فقر نه پناه غواړم الهي! په تاپورې د قبر د عذاب نه پناه غواړم، بل هيڅ معبود برحق نشته مګر يواځې ته يې.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د استغفار سردار دا ذكردی

(1) ابن ماجه

(2) ابو داود

څوک چې يې په يقين سره د ورځې يا د شپې ولولي او په دغه شپه يا ورځ ورته مرګ راشي جنت ته به داخل شي:

**(اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت خَلَقتني وأنا عَبْدُك وأنا على عهدك ووعدك ما استطعت أعوذ بك من شر ما صنعت ، أبوءُ لك بنعمتك عليّ ،وأبوء بذنبي فاغفر لي فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت)**[١].

الهي! ته زما رب يې بل هيڅ معبود برحق نشته مګر ته يې، ته زما خالق يې او زه ستا بنده يم، زه د خپل طاقت برابر ستا په وعده او عهد ولاړ يم، زه په تاپورې د خپل بد عملونو د شر نه پناه غواړم ستا په نعمتونو او په خپلو ګناهونو اقرار کوم، ماته ببنه وکړې بيکښه هيڅوک د ګناهونو بخشش نشي کولی مګر يواځې ته يې چې د ګناهونو بخشش کوي.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې هر سهار او ماښام د سورت اخلاص سورت الفلق او سورت الناس درې ځل لوستل د هر څه د شر نه کافي کيږي.[٢].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هر څوک چې سهار او ماښام درې ځل دا دعا ولولي هيڅ څيز به ورته ضرر ونه رسوي.

**(بسم الله الذي لا يضرُّ مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم)**[٣].

د الله پاک د نوم په مدد هغه ذات چې د نامه سره يې هيڅ شي په زمکه

(1) بخاري

(2) ترمذي

(3) ابن ماجه

او اسمان کې ضرر نشي رسولی او هغه اوریدونکی او لیدونکی دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ابو بکر رضي الله عنه ته دا تعلیم ورکړی وچې سهار او ماښام دا دعا ولولي:

**(اللهم عَالِمَ الغيب والشَّهادة، فاطر السموات والأرض، رب كل شيء ومليكه، أشهد أن لا إله إلا أنت أعوذ بك من شر نفسي ومن شر الشيطان وشركه وأن اقترف على نفسي سوءًا أو أجُره إلى مسلم)**[١]

الهي! په پټو او ښکاره عالمه د ځمکې او اسمانونو خالقه، د هر شي رب او واکداره، زه ګواهي کوم چې هیڅ معبود برحق نشته مګر یواځې ته یې، په تاپورې د خپل نفس د شر او د شیطان د شرنه او د شرک نه پناه غواړم، او د دینه چې د خپل ځان په هکله یا د بل مسلمان په هکله بدي وکړم.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلې لور فاطمې بي بي ته دا وصیت کړی وو، چې سهار ماښام دا دعا ولولي:

**(يا حي يا قيوم برحمتك أستغيث أصلح لي شأني كُله ولا تَكِلْني إلى نفسي طرفة عين)**[٢].

ای د کامل ژوند خاونده! ستا په رحمت فریاد کوم ټول کارونه مې جوړ کړې، خپل نفس ته مې د سترګو د رپ په انداز مه سپاره.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې سهار ماښام

(1) ترمذي

(2) سلسله احاديث صحيحه

سل ځل (**سبحان الله وبحمده**) ذکر وکړې د قیامت په ورځ به هیڅوک دده نه غوره عمل واله نه وي مګر هغه څوک چې دده په شان یې دا ذکر کړی وی او یا یې دد ه نه زیات.[1]. نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي دي چې په دې ذکر سره ټول ګناهونه معاف کیږي اګر که د سمندر د زګ برابر وي.[2]

**(لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير)**[3].

نشته هیڅ معبود برحق مګر یواځې د الله پاک ذات دی یواځې دی هیڅ شریک نلري، بادشاهي او ستاینه هغه لره ده، او هغه په هر څه قادر دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې دا ذکر د ورځې سل ځل ووایي، د لسو غلامانو د ازادولو اجر او ثواب به یې په برخه شي او سل نیکۍ به ورله ولیکل شي، او سل ګناهونه به یې ورژیږي او دا به یې د شیطان نه تر ماښامه پورې بچاو وي، او دده نه به د غوره عمل واله هیڅوک نه وي مګر هغه څوک چې د ده نه یې زیات دا ذکر کړی وی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(من صلى عليَّ حين يصبح عشراً، وحين يمسي عشراً أدركته شفاعتي يوم القيامة)**[4].

(1) مسلم
(2) بخاري
(3) مسلم
(4) صحيح الجامع

ثوک چې په ماباندې سهار ماښام لس ځل درود ووایي، د قیامت په ورځ به یې زما شفاعت په برخه شي.

هغه ذکر کوم چې یواځې په سهار کې ویل یې مشروع دي:

**(رضيت بالله رباً، وبالإسلام ديناً وبمحمد نبياً)**[1].

زه د الله پاک په ربوبیت، او په دین د اسلام، او په نبوت د محمد صلی الله علیه وسلم راضي او خوشحاله یم.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي ثوک چې سهار دا ذکر کوي، زه یې زمه واریم چې د لاس نه به یې نیسم تر دې چې جنت ته یې داخل کړم.

هغه ذکر کوم چې یواځې په ماښام کې ویل یې مشروع دي:

**(أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق)**[2].

د الله پاک په پوره کلماتو سره د مخلوق د شر نه پناه غواړم.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې ماښام دا ذکر درې ځل ووایي، په دغه شپه به ورته زهریله شیان ضرر نشي رسولی. **(الحِمَةُ)** د زهریله شیانو لکه مار، لړم وغیره زهرو ته **(حمة)** وایي.

(1) سلسله احادیث صحیحه

(2) ترمذي

# په خوراک، څښاک کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم طريقه

**په خوراک** کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم طريقه دا وه چې موجود خوراک به يې نه رد کولو، او چې کوم خوراک به نه و د هغې تلاش به يې نه کولو، هر کله چې به څه خوراک ورکړل شو هغه به يې خوړلو مګر که خوښ به يې نشو بغير د تحريم نه به يې پريښود، او هيڅکله يې په طعام عيب نه دی لګولی، که به يې خوښ شو د خوراک لپاره به يې واخست او که نه نو بغير د تحريم نه به يې پريښود[1]. نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د طعام صفت کولو تر څو د طعام تياروونکی خوشحاله شي[2].

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم طريقه داوه چې کوم طعام به د خوراک لپاره په اسانه پيدا شو هغه به يې خوړلو او که نه نو صبر به يې کولو تر دې چې په خپله خېټه پورې به يې کاڼي وتړلو، ټوله ورځ به يې په ولږه تېره کړه او د خوراک لپاره به ردي کجوري هم نه وې چې خوړلی يې وی[3].

(1) بخاري
(2) مسلم
(3) مسلم

میاشت، دوه، درې به تیرې شوي او د نبي کریم صل الله علیه وسلم په کور کې به اور بل نشو[١].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې کله کور ته راغلی وبه یې ویل **(هل عندکم طعام)** د خوراک څه شته ؟ که چرته به ورته وویل شو چې نشته نبي کریم صلی الله علیه وسلم به و فرمایل:زما روژه شوه[٢]

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دوشنبه او پنشنبه ورځ روژه نیوله[٣]

نبي کریم صلی الله علیه به هره میاشت درې ورځې روژه نیوله[٤].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د خوراک په شروع کې **(بسم الله)** او اخره کې د الله پاک حمد وثنا او دا دعا ویله:

**(الحمد لله حمداً کثیراً طیباً مبارکاً فیه غیر مَکفي ولا مُودّع ولا مُستغنی عنه ربنا)**[٥].

ټول د کمال صفتونه الله پاک لره دي، ډیر پاک او برکتناک، نه پوره کیدونکي، او نه پریښودونکي، او نه مستغني کیدونکي صفتونه ای زمونږ ربه!.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې خوراک وکړې او دا دعا ووایي مخکني ګناهونه به یې معاف شي:

(1) بخاري
(2) ابو داود
(3) نسائي
(4) مسلم
(5) بخاري

**(الحمد لله الذي أطعمني هذا ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة)**[1].

ټول د کمال صفتونه الله پاک لره دي هغه ذات چې زما د توان او طاقت نه بغیر یې دا خوراک ماته راکړ.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په درې ګوتو خوراک کولو، او چې د خوراک نه به فارغه شو خپلې ګوتې به یې وڅټلې[2].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په ښي لاس د خوراک کولو امر کوو، او دا یې فرمایلي دي چې شیطان په چپ لاس باندې خوراک اوڅښاک کوي.[3]

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د تکیه په حالت کې خوراک نه کولو[4]. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به اکثر وخت د خوراک لپاره په زمکه کیناستلو، او په ولاړه باندې د اوبو څکلو نه یې منع کړې ده [5]. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به اکثر وخت سکل په ناسته کولو او دلوښي نه بهر به یې درې ځل ساه اخستله او دا به یې فرمایل:

**(إنه أروى وأبرأ وأمرأ)**[6].

بیشکه په درې ساه اوبه سکل ښه مړونکي، او ښه جوړونکي ( د بیمارۍ) نه او ښه تیرودونکي دي ( په مرۍ کې).

(1) ترمذي
(2) مسلم
(3) مسلم
(4) بخاري
(5) مسلم
(6) مسلم

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به ميزبان ته دا دعا کوله:

**(اللهم أطعم من أطعمني واسقِ من سقاني)**[١].

الهي! چاچې ماته خوراک، څښاک راکړ، ته ورته خوراک او څښاک ورکړې.

**(اللهم بارك لهم فيما رزقتهم واغفر لهم وارحمهم)**[٢].

الهي! دوې ته رزق، ورکړې، ښښنه ورته وکړې او رحم ورباندې وکړې.

(1) مسلم

(2) مسلم

# په لباس، مزل او سورلۍ کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم طریقه

**نبي** کریم صلی الله علیه وسلم چې به کله لباس په تن کړ دا دعا به یې ویله:

**(الحمد لله الذي كساني هذا الثوب ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة)**[1].

ټول د کمال صفتونه الله پاک لره دي، هغه ذات چې زه يې په دې لباس سره پټ کړم او زما د توان او طاقت نه بغیر یې ماته دا لباس راکړ.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې به کله نوی لباس په تن کړ د هغې نوم به یې واخست، مثلا پټکی، قمیص، څادر وغیره بیا به یې دا دعا وویله: **(اللهم لك الحمد كما كسوتنيه أسألك خيره وخير ما صنع له وأعوذ بك من شره وشر ما صنع له)**[2]

الهي! ستا لپاره پوره ستاینه ده، ماته دې دا جامه راواغوستله، زه ستانه د هغې خیر او د څه لپاره چې جوړه شوې ده د هغه خیر سؤال کوم، او

(1) ابو داود
(2) ابو داود

په تاپورې د هغې د شر او د څه لپاره چې جوړه شوي ده د هغه شر نه پناه غواړم.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته په لباس کې قميص او حبره (چپن) ډير خوښ و[١].

(برده) دا يو خاص ډول چپن وه په يمن کې د خالص مالوچو نه به جوړيده او سره خطونه به ورباندې نقش شوی وو. نبي کريم صلی الله ته په لباس کې سپين رنګ ډير خوښ و، او داسې به يې فرمايل:

**(خير ثيابكم البياض فالبسوها وكفنوا فيها موتاكم)**[٢].

ستاسې سپين رنګه جامې غوره دي، په تن يې کړې، او خپلو مړو ته يې کفن کړې.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به تک سور رنګ جامې بدې ګڼلې او د هغې نه منع کړې ده[٣]. نبي کريم صلی الله عليه وسلم په هغه سړي چې ښځينه جامې په تن کوي لعنت کړی دی، او په هغه ښځه چې نارينه لباس په تن کوي هم لعنت کړی دی[٤]. کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم علی ابن عمرو وليد چې سرې جامعې يې په تن کړې دي ورته يې وفرمايل:

**(إن هذه من ثياب الكفار فلا تلبسها)**[٥].

(1) ابو داود
(2) ابن ماجه
(3) بخاري
(4) ابو داود
(5) مسلم

بیشکه دا د کافرانو جامې دي مه یې په تن کوه.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شهرت د لباس نه منع کړېده[١].
او د سرو لپاره یې د وریښم او سرو زرو د استعمال نه منع کړیده[٢]. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تکبر په خاطر په ځان پسي جامې راښکلو نه او د ګټکیو نه د جامې ښکته کولو نه منع کړېده نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(ما أسفل من الكعبين من الإزار ففي النار)**[٣].

هغه جامه چې د ګټکیو نه ښکته شي په اور به سوزي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لنګ به تر نیمایي پنډۍ رسیدلو[٤].

کله به چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم قمیص اغوستلو د ښي طرف نه به یې شروع وکړه[٥].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(إذا لبستم وإذا توضأتم فابدأوا بأيمانكم)**[٦].

کله چې تاسې لباس په تن کوې، او اودس کوې نو د خپل ښي طرف نه شروع وکړې.

---

(1) ابو داود
(2) مسلم
(3) بخاري
(4) صحیح شمائل للالبانی
(5) ترمذي
(6) ابو داود

نبي كريم صلى الله عليه وسلم چې به كله قميص ويستلو نو د چپ طرف نه به يې شروع وکړه همدغه شان د پيزار په خپو كولو كې هم

نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ښي خپې په هكله فرمايلي دي:

**(لتكن أولاهما تُنعل وآخرهما تُنزع)**[١].

ښي خپې ته بايد اول پيزا ر واچول شي او اخر ترې بايد وويستل شي.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم په يو پيزاركې دمزل كولو نه منع كړيده

كله نا كله به نبي كريم صلى الله عليه وسلم پايدل مزل هم كولو[٢]. نبي كريم صلى الله عليه وسلم به چې كله روان وو په مزل كولو كې به لګ شان مخې ته مايل وو، او كلک كلک قدمونه به يې اخستل لكه چې د بره نه را كوزيږي[٣].

كله چې به نبي كريم صلى الله عليه وسلم خپلې سورلۍ ته ختلو نو **(بسم الله)** به يې وويله، او چې كله به په سورلۍ كيناست نو **(الحمد لله)** به يې وويله او بيا به يې وويل **(سبحان الذي سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين وإنا إلى ربنا لمنقلبون)**.

پاكي ده هغه ذات لره چې دا سورلۍ يې زمونږ لپاره تابع كړيده او نه و مونږ دې لره طاقت لرونكي، او بيشكه مونږ خپل رب طرف ته بيرته تلوونكي يو.

(1) بخاري

(2) ابو داود

(3) ترمذي

بيا به يې درې ځل (**الحمد لله**) او درې ځل (**الله اكبر**) ووېلو، او بيا به يې دا دعا ولوستله:

**(اللهم إني ظلمت نفسي فاغفر لي فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت)**[1].

الهي! بيشکه ما په خپل ځان ظلم کړی دی، ببښنه راته وکړې، ځکه چې ببښنه د ګناهونو هيڅوک نشي کولی مګر ته يې کوي.

(1) ابو داود

# د عامو خلکو سره په تعامل کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم طريقه

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ډېر ښايسته مخ خاوند و او په ټولو خلکو کې د ښو اخلاقو خاوند و[١]. نبي کريم صلى الله عليه وسلم فاحشه او بد ژبانه نه وو او په بازارونو کې چغې وهوونکى هم نه وو د بدو بدله به يې په بدى سره نه ورکوله بلکه معافي او در گذر به يې کولو[٢].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم هيڅکله د خپل ځان لپاره بدل نه دى اخستى مگر که د الله پاک د حکم خلاف به شو نو بيا به ډېر زيات غصه کيدلو (د الله پاک حکم به يې نافذه ولو) کله به چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته د دوو کارونو په مينځ کې اختيار ورکړل شو په هغه دواړه کارونو کې به يې اسان کار اختيار ولو په دې شرط چې گناه به نه وه[٣].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم هيڅوک په خپل لاس وهلي نه دي نه غلام، نه ښځه، نه خادم، مگر د الله پاک په لاره کې د جهاد په وخت کې[٤].

---

(1) بخاري

(2) ترمذي

(3) بخاري

(4) مسلم

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم خادم انس بن مالک رضي الله عنه فرمايلي دي:

**(خدمت رسول الله ﷺ عشر سنين فما قال لي أُفٍّ قط وما قال لي لشيء صنعته: لِمَ صنعته، ولا لشيء تركته: لِمَ تركته)**(١).

ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم لس کاله خدمت وکړ ماته يې د خفګان اظهار نه دی کړی او نه يې ماته ويلي دي چې دا کار دې ولي کړی يا دا کار دې ولي نه دي کړی.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې به چا سره په سترګي مشي کې لاس ورکړ، تر هغه به ترينه لاس نه لري کولو ترڅو چې به هغه سړي خپله خپل لاس لرې کړ.(٢).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به په ښه طريقه مخامخ خبري کولې تر دې چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره خبرې کوونکي به دا ګمان وکړ چې زه ورته په ټولو خلکو کې ډېر ګران يم(٣).

جرير بن عبد الله رضي الله عنه وايي:

**(ما رآني رسول الله ﷺ منذ أسلمت إلا تبسم)**(٤).

د څه وخت نه چې زه مسلمان شوی يم، هر کله چې نبي کريم صلى الله عليه راته کتلي دي په مسکا يې راته خندلي دي.

(1) ترمذي
(2) ابن ماجه
(3) بخاري
(4) بخاري

عبد الله بن حارث رضي الله عنه وايی:

**(ما رأيت أحداً أكثر تبسماً من رسول الله ﷺ)** [١].

ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه زيات بل هيڅوک د مسكا خندا كوونكی ليدلی نه دی.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به په داسي طريقه خبرې كولې چې شمير كونكي به يې ټولې پوره خبرې شميرلی شوې [٢]. د نبي كريم صلى الله عليه وسلم خبرې داسي په وضاحت سره وې چې هر اوريدونكی به ورباندي پوهيدلو. [٣]

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به په ډيره بيړه خبرې نه كولې او كله نا كله به يې يوه خبره درې ځل په تكرار ويله ترڅو وربانديي خلک ښه پوه شي [٤].

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به چې كله د يوسړي په كړنه باندي رد كولو د هغه نوم به يې نه ذكر كولو بلكه داسي به يې ويل: چې څه وجه ده چې دا خلک داسي اوداسي كار كوي [٥]! نبي كريم صلى الله عليه وسلم به هر وخت د الله پاک ذكر كولو [٦]. صحابه كرامو به په يو مجلس كې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سل ځل استغفار شميرلو:

(1) ترمذي
(2) بخاري
(3) ابو داود
(4) بخاري
(5) ابو داود
(6) مسلم

**(رب اغفر لي وتب علي إنك أنت التواب الرحيم)**[١].

ای ربه ښښنه راته وکړې او رحم راباندي وکړې، بیشکه ته توبه قبلونکی او رحم کونکی یې.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**(والله إني لأستغفر الله وأتوب إليه في اليوم أكثر من سبعين مرة)**[٢].

په الله پاک قسم چې زه په ورځ کې د اویا ځل نه زیات الله پاک ته توبه او استغفار کوم. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دادعا ډیره غوښتله **(ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار)**[٣]. ای زمونږ ربه مونږ ته په دنیا او اخرت کې نعمت راکړې او د اور د عذاب نه مو وساتې.

**(يا مقلب القلوب ثبت قلبي على دينك)**[٤].

ای د زړونو بدلوونکیه زړه مې ستا په دین کلک کړې.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د خپل مجلس اختتام په دې دعا سره کولو:

**(سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك وأتوب إليك)**[٥].

الهي! پاکې او ستاینه تالره ده، ګواهي کوم چې بل هیڅ برحق معبود نشته مګر ته یې، ښښنه درنه غواړم، او خاص تاته رجوع کوم.

---

(1) ابو داود
(2) بخاري
(3) بخاري
(4) ترمذي
(5) ابو داود

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ډير زيات حياناک و، چې يو څه به يې بدي شول د هغې اثر به يې په مخ کې ښکاره شو[۱]. نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ټولو خلکو نه زيات سخاوت واله وو هيڅکله ترې يو څه نه دي غوښتل شوي او هغه صلى الله عليه وسلم دي نه کړي وي بلکه داسي سخاوت به يې کولو لکه چې بيخي نه فقر پيژني او نه ترې ويريږي[۲]. نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(لو أن لي مثل أُحُدٍ ذهباً ما سرني أن تأتي عليَّ ثلاث ليال وعندي منه شيء، إلا شيء أرصده لدين)**[۳].

زما سره که د احد غر برابر سره زر وي په دې خوشحاله نه يم چې درې ورځې دې راباندې تيرې شي او د هغې نه دې يو څه ماسره باقي پاتې وي مگر يو لږ څه که د قرض لپاره پريږدم.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په ټولو خلکو کې ډير زيات صبرناک او د برد بارۍ واله و، يو څوک راځي او د هغه په غاړه مبارکه کې څادر اچوي او په ډيره سختۍ سره يې راکش کوي چې په غاړه مبارکه کې يې د هغې اثر پاتې کيږي او د دې سره ورته سختې خبرې هم کوي خو نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه ته د مسکا خندا کوي او خپلو صحابه و ته حکم کوي چې يو څه ورته ورکړې[٤].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په ټولوخلکو کې ډير زيات د شجاعت او

(1) بخاري
(2) مسلم
(3) بخاري
(4) بخاري

بهادرۍ خاوند و، براء بن مالک رضي الله عنه چې زړه ور صحابي دی فرمايي:

**(كنا والله إذا احمرَّ البأس نتقي برسول الله ﷺ وإن الشجاع منا هو الذي يقترب منه في الحرب لشدة قربه من العدو)**[١].

په الله پاک قسم چې کله به جنګ سخت شو مونږ به د نبي کريم صلی الله عليه وسلم شاته ځان بچ کولو، په مونږ کې به زړور هغه څوک و چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم خواته به ولاړ ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د دښمن خواته ډير نيږدې و.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو د حاجتونو د پوره کولو يواځنې مرجع وه، د ځينو به يې قرض ادا کړ، ښواده ته به يې د واده ترتيب برابر کړ، درې ځل د جابر رضي الله عنه د سفارش لپاره يو يهودي ته ورغلی تر څو قرض ورته لږ روستو کړي، يوه ښځه ورته راځې د خپل خاوند نه شکايت کوي نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هغې شکايت اوري[٢]. نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغلی د خپل اوښ نه يې شکايت وکړ چې اوښ مې سرکشه شوی دی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورسره لاړو د هغه سړي اوښ هم نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ، چې خاوند مې راباندې کار ډير کوي او خوراک (وابنه) لږ راکوي[٣]!

حيواناتو به هم نبي کريم صلی الله ته شکايت کولو تر څو انصاف ورته

(1) مسلم

(2) بخاري

(3) احمد

ملاو شي، الله پاک ربنتيا ويلي دي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ﴾.
مونږ نه يې ليږلی ته مگر رحمت يې د عالم لپاره.

نبي كريم صلی الله عليه وسلم کې د تواضع صفت و بدي به يې نه گڼلو چې د کونډې او مسکين سره لاړ شي او د هغې حاجت پوره کړي، نبي كريم صلی الله عليه وسلم ته يوه ښځه راغله ويې ويل يو حاجت لرم نبي كريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هرې خواته چې مې پوزي زه درسره ځم ترڅو ستا حاجت پوره کړم، ورسره لاړ او د هغې حاجت يې پوره کړ[1]. نبي كريم صلی الله عليه وسلم ته به دعوت ورکړی شو او د خوراک لپاره به د وربشو ډوډۍ او وازده تياره شوی وه، هغه به دعوت قبول کړ، نبي كريم صلی الله عليه وسلم به فرمايل:

**(لو أهدي إليّ كُراع لقبلت ولو دُعيت عليه لأجبت)**[2].

ماته که څوک ليچې (ښنګری) هديه راکړي يا د هغې دعوت راکړې قبلوم يې.

د نبي كريم صلی الله عليه وسلم يوه زغره د يهودي سره گاڼه وه څه نه و چې هغه راخلاصه کړي تر دې چې وفات شو[3].

نبي كريم صلی الله عليه وسلم به د ماشومانو سره نرمي او لوبې کولې انس بن مالک رضي الله عنه وايي:

(1) مسلم
(2) بخاري
(3) بخاري

**(ما رأيت أحداً كان أرحم بالعيال من رسول الله ﷺ)**[1].

ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه ډير زيات مهربانه په اهل وعيال بل هيڅوک نه دی ليدلی.

كله چې به نبي كريم صلى الله عليه په ماشومانو ورتير شو په هغوې به يې سلام وكړ[2].

(1) مسلم

(2) بخاري

# په کورکې اودخوب په وخت د نبي کريم صلى الله عليه وسلم طريقه

**د نبي** کريم صلى الله عليه وسلم د کوټو جوړښت د ختو نه وو او د کوټو په چتونو باندې د کجورې لښتې پرتې وې، او کوټې تنګې وې او چتونه يې ټيټ وو،کله به چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د شپې د لمانځه په وخت سجده لګوله نو عائشه رضي الله عنها به يې وسکوندله هغې به خپې را غونډې کړې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به سجده وکړه او چې کله به پاڅيده عائشې رضي الله عنها به بيرته خپلې خپې وغزولې.[1].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې به کله خپل کور ته داخل شو مسواک به يې استعمال کړ، او سلام به يې په داسي طريقه وکړ چې په خوب ويده به راويښ نه شو، او چې څوک به ويښ وو هغوی به واوريد[2].

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

(1) بخاري
(2) مسلم

**(إذا ولج الرجل بيته فليقل: اللهم إني أسألك خير المولج وخير المخرج بسم الله ولجنا وعلى الله ربنا توكلنا ثم ليسلم على أهله)**[١].

كله چې يو سړى خپل كورته داخل شي، دا دعا دې ووايي: الهي! زه ستا نه په خير سره د داخليدلو او په خير سره د وتلو سؤال كوم، مونږ د الله پاک په مدد ننوتلو، او خاص په الله پاک باندي چې زمونږ رب دى توكل كوو، او بيا دې په خپل اهل و عيال باندي سلام واچوي. نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ځوک چې كور ته د داخليدلو په وخت او د خوراک كولو په وخت د الله پاک ذكر ونه كړي، شيطان ورسره په شپه تيرولو او خوراک كولو كې شركت كوي.[٢].

نبي كريم صلى الله عليه وسلم چې به كله د كور نه بهر وتلو دا دعا به يې ويله:

**(بسم الله ، توكلت على الله ، اللهم إنا نعوذ بك من أن نَزِلَّ أو نَضِل أو نَظلِم أو نُظلَم أو نَجهل أو يُجهل علينا)**[٣].

د الله پاک په مدد توكل مې په الله پاک ، الهي! په تاسره پناه غواړو له دينه چې وښيويږو او يا زمونږ نه لار وركه شي، يا ظلم وكړو، يا راباندي بل ځوک وكړي، يا چاته ضرر او نقصان ورسوو، يا مونږ ته بل ځوک ضرر يا نقصان راكړي.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ځوک چې د كورنه د تلو په وخت دا دعا ولولي، ورته وويل شي چې د سمې لارې هدايت درته وكړى

(1) صحيح جامع
(2) مسلم
(3) ترمذي

شو، د شر او افت نه محفوظ شوې، او شیطان ترینه لري شي:

**(بسم الله، توکلت على الله، ولا حول ولا قوة إلا بالله)**[١].

د الله پاک په مدد، توکل مې په الله پاک، نشته بچاو د ګناه نه او طاقت د نیکۍ مګر د الله پاک لخوا نه.

د عائشې رضي الله عنها پوښتنه وشوه چې نبي کریم صلى الله علیه وسلم به په کور کې څه کول؟ عائشه رضي الله عنها وفرمایل:

**(كان يكون في مهنة أهله فإذا سمع الآذان خرج)**[٢].

په کور کې به یې کار کولو چې اذان به یې واورید، کار به یې پرېښود او مسجد ته به لاړو.

عائشه رضي الله عنها فرمایي:

**(كان بشراً من البشر يفلي ثوبه ويحلب شاته ويخدم نفسه)**[٣].

نبي کریم صلى الله علیه وسلم بشر و، نو خپلې جامې به یې پخپله کتلې او خپله به یې ګېډه رالوشله، او د خپل ځان خدمت به یې پخپله کولو.

نبي کریم صلى الله علیه وسلم په ټولو خلکو کې د خپل اهل عیال سره ډیر ښه و، او په ډیره ښه طریقه یې ورسره ژوند کولو، کله به یې د عائشې رضي الله عنها خبرې تر ډیر وخت پورې واوریدلې د هغې خبرې به یې په مینځ کې نه پریکولې بلکه ټولې خبرې به یې واوریدلې[٤].

(1) ابو داود
(2) بخاري
(3) سلسله احادیث صحیحه
(4) بخاري + مسلم

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به دعائشې رضي الله عنها سره د منډې سيالي کوله، چې کله به عائشه رضي الله عنها د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په سيالې کې مخکې شوه او کله به نبي کريم صلی الله عليه وسلم مخکې شو[١]. د حبشې ځوانانو د اختر په ورځ لوبه کوله عائشې رضي الله عنها غوښتل چې د لوبې تماشه وکړې، نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپلې شاته ودروله لوبې ته يې کتل تر دې چې ستړې شوه[٢].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ډير نرم مزاجه شخصيت و، کله به چې هم ترې عائشې رضي الله عنها څه وغوښتل هغه صلی الله عليه وسلم به پوره کولو.[٣]

نبي کريم صلی الله عليه وسلم يوه ورځ د خپل اوښ خواته کيناست او خپل زنگون يې کيښود تر څو صفيه رضي الله عنها وربانديې خپه کيږدي او په اوښ کيني، نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د خپلو بيبيانو سره ډيره نرمي کوله د هغوې غيرت او غوسه به يې برداشت کوله او ډيره نرمي به يې ورسره کوله.[٤] د نبي کريم صلی اله عليه وسلم بستره او بالښت د څرمن نه جوړ او ډکون يې د کجورې ځانگې وې، يوه ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم په بوزکي باندي ويده و چې په اړخونو کې د بوزکي ښکاره کيدلو[٥].

(1) ابو داود

(2) بخاري

(3) مسلم

(4) بخاري

(5) بخاري

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم به هره شپه معمول دا و چې کله به خپلې بسترې ته راغلی دواړه لاسونه به يې لپه کړل سورت ﴿**قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ**﴾ ﴿**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ**﴾ ﴿**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ**﴾ به يې ولو ستل په لاسونو کې به يې چپ کړل او چې څومره به يې کولی شو، په خپل بدن به يې راکش کړل شروع به يې د سر مخ او د بدن مخامخ برخې نه وکړه دا کار به يې درې ځل په تکرار سره کولو.[1].

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به دا دعا لوستله:

**(الحمد لله الذي أطعمنا وسقانا، وكفانا وآوانا فكم ممن لا كافي له ولا مؤوي)**[2].

ټول د کمال صفتونه الله پاک لره دي هغه ذات چې مونږ ته خوراک څښاک راکړ، هغه زمونږ لپاره کافي شو، او مونږ ته يې ځای راکړ، ډير خلک شته چې نه يې څوک کافي شته او نه څوک ځای ورکونکی لري.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې به کله د خوب لپاره خپل اړخ ولګولو او ښې لاس به يې د سر لاندې کړ، بيا به يې دا دعا لوستله:

**(اللهم قني عذابك يوم تبعث عبادك)**[3].

الهي! په هغه ورځ مې ستا د عذاب نه وساتې په کومه ورځ چې خپل بندګان بيرته راپورته کوې.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د خوب په وخت دا دعا هم لوستله:

(1) بخاري
(2) مسلم
(3) ابو داود

**(باسمك اللهم أموت وأحيا)**[١].

الهي! ستا په نوم مرم او ژوندی کیږم. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په ښي اړخ ویده کیدلو او دا دعا به یې لوستله:

**(اللهم أسلمت نفسي إليك، ووجهت وجهي إليك، وفوضت أمري إليك، وألجـأت ظهري إليك، رغبة ورهبة إليك، لا ملجأ ولا منجى منك إلا إليك، آمنت بكتابك الذي أنزلت، وبنبيك الذي أرسلت).**

الهي! خپل ځان مې تاته تسلیم کړ، او خپل مخ مې تاته مخامخ کړ، او ټول کارونه مې تاته وسپارل، خپله ملا مې تاته تکیه کړه، ستا د ثواب امید لرم، او ستا د عذاب نه ویریږم، بیله تانه بل هیڅ ځای د نجات او خلاصون نشته، ستا په نازل شوی کتاب، او رالیږل شوي پیغمبر مې ایمان راوړی دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې دعا په هکله فرمایلي دي: که څوک دا دعا ولولي او په دغه شپه مړ شي مرګ به یې د اسلام په دین وي[٢].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خوب په وخت دا دعا هم لوستله:

**(اللهم خلقت نفسي وأنت توفاها لك مماتها ومحياها. إن أحييتها فاحفظها، وإن أمتها فاغفر لها. اللهم إني أسألك العافية)**[٣].

الهي! تا زما روح پیدا کړی دی او ته به یې مړ کوې، مرګ او ژوند ستا په

(1) بخاري
(2) بخاري
(3) مسلم

اختیار کې دی، که دې ژوند ورکړ، ساتنه یې وکړې، او که دې مړ کړ، ښښنه ورته وکړې، الهي! ستانه د عافیت سؤال کوم.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به تر هغه وخت نه ویده کیدلو تر دې چې سورت ﴿الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ...﴾ السجدة او سورت ﴿تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ﴾ به یې ولوستل[٤].

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د آیت الکرسي او د سورت بقرى اخرني دوه ایاتونو لوستلو ته ترغیب ورکړی دی او دا یې فرمایلي دي: چې څوک د سورت بقرې اخرني دوه ایاتونه تلاوت کړې دابه د هغه لپاره کافي شي[1]. همدغه شان دا دعا:

**(باسمك ربي وضعت جنبي وبك أرفعه، فإن أمسكت نفسي فارحمها، وإن أرسلتها فاحفظها بما تحفظ به عبادك الصالحين)**[٢].

ای زما ربه! ستا په مدد مې خپل اړخ کیښود، او ستا په مدد به یې پورته کوم، که دې زما روح بند کړ، رحم ورباندې وکړې، او که دې پریښود، داسې ساتنه یې وکړې لکه څنګه چې د نیکانو بندګانو ساتنه کوې.

**(اللهم عالم الغيب والشهادة فاطر السموات والأرض رب كل شيء ومليكه أشهد أن لا إله إلا أنت أعوذ بك من شر نفسي ومن شر الشيطان وشركه)**[٣].

الهي! په پټو او ښکاره عالمه د زمکې او اسمانونو خالقه، د هر شي رب او واکداره، زه ګواهي کوم چې هیڅ معبود برحق نشته مګر یواځې ته

(1) بخاري
(2) بخاري
(3) ترمذي

يې، په تاپورې د خپل نفس د شر او د شيطان د شرنه او د شرک  نه پناه غواړم.

**(اللهم صل على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم، وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد)**[1].

الهي! رحمتونه راوليږې په محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه په آل باندي لكه څنګه چې تا رحمتونه كړي وو په ابراهيم عليه السلام او د هغه په آل باندي. الهي! بركتونه را نازل كړې په محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه په آل باندي، لكه څنګه چې تا بركتونه نازل كړي وو په ابراهيم عليه السلام او د هغه په آل باندي، بيشكه ته ستايلى شوى او لوې ذات يې.

الهي! كه په دنيا كې موږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د صحبت د هغه سره ناسته او هغه صلى الله عليه وسلم ته نظر كولو نه محرومه شوي يو، پس په اخرت كې مو ددينه مه محرومه وه، موږ ته د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ګاونډيتوب را په برخه كړې، هغه صلى الله عليه وسلم ته كتل او ورسره خبرې اترې كول مو نصيب كړې د هغه صلى الله عليه وسلم په حوض كوثر مو راولي او د هغه صلى الله عليه وسلم په مباركو لاسونو راته اوبه څكل نصيب كړې چې د هغې نه روستو به بيا هيڅكله تږي نه شو، اى كريمه ذاته د نبي كريم صلى الله عليه وسلم شفاعت زموږ په برخه كړې، الهي! موږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د سنتو

(1) بخاري

ملګري کړې او په هر څه کې د هغه تابعداري را نصيب کړې او نبي کريم صلی الله عليه وسلم او د هغه سنت مونږ ته د مور، پلار او بچو او د ټولو خلکو نه زيات محبوب کړې.

الهي! نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته ډيره دخير پوره بدله او فضيلت ورکړې او د ستاينې هغه مقام چې تا ورسره د هغې وعده کړې ده ور په برخه کړې، بيشکه ته د خپلې وعدې خلاف نه کوې.

IslamHouse.com

IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

islamhouseps

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

Guidetolslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

OFFICERABWAH



جائزة السبيعي للتميز في العمل الخيري

International Organization for Standardization
ISO
9001

osoulcenter

www.osoulcenter.com

To Download This Book, please Visit:

OSOUL STORE
osoulstore.com